سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۹/۰۴

# خـــــدایـــه!

ستا دنیا کی ظلم ډیر عدالت کم دی
کرکه ډیره قهر ډیر محبت کم دی
دلته هرساعت وژل دي کړیدل دي
زوریدل دي ژړیدل دي پرزیدل دي
سوزیدل دي فریادونه دی غوغا ده
هرڅیک د ځمکی اور دی کربلا ده
د جنګونو دیوان ټول را ایله شوی
په حیوان او په انسان حواله شوی
لـه شمالـه تر جنـوبه اور بلیږی
له مشرقه تر مغرب مخلوق سوزیږی
جدا کیږی مورله لوراو زوی له پلاره
میږه ورک له ارتیني نه شی په لاره
دا دنیاده که محشر دی پاکه خدایـه
ئیو راغلی له کوم ځایه تر دی ځایه؟
راته وایی چی دا ټول کارونه ستا دی
د ازل برخی معلومی د هر چا دي
نه کمیږې نه زیاتیږې تکل مکږه
دا ګناه ده، اشتباه پـه ازل مکږه.

**** **** ****

یم حیران که دا هرڅه وی ستا له خوانه
بیا نو ولی ته ناراضه شی له مانه؟
دا تیری دا تجاوز که استبداد وی
ستا له لور که نازل شوی لکه باد وی
ستا نـړی وی ستا د لاسه ناقراره
ګرموی انسان په څـه پرورد کاره؟
وایی: کیږی چی هرڅه هغه له تا دي
خو! شکی یم له تا نه دی دا له مادی.

**** **** ****

زه حیوان نـه یـم انسان یمه پوهیږم
پیدا شوی یـم آزاد، آزاد اوسیږم
تا ښوولي راتـه لاري کـړې، سـمي
جـوړ ومـه زه پخپلـه زیاتي، کمي
تا راکړی راتـه عقل او شعور دی
پیـرزو کړیدی زما سترګو ته نوردی
زه لیدلئ شمه سـمې، کږې لارې
بیـلولئ شـمه نیکې، بدې چارې
خپلو کړنو کی آزاد یم تل تر تله
تاکم ځانته می د ژوند لاره پخپله

زه مســؤل یـمه د خپـلو عملـونـو ځـواب دِه یـمـه د ښو یـدو کـارونو
زه پخپله جـوړونکی د تـقـدیر یم زه د خپل عقل بنده یـمـه اسیر یم
تا تاکلی په هر څه کی راتـه حد دی پیژندلو کی د حد هم ستا مـدد دی
په همدی سبب حساب غواړی له مانه یابه خـوښ یـم یا به یمـه پښـیـمانه
که زما په هر عمل کی ستا رضا وی هـم پـه ښو او هـم په بدو ستا سلاوی
بیا نو څنګه زه لایـق ستا د عذاب یم یا به ولی زه محروم ستا له ثواب یم؟
زه پوهـیـږم دنیـا ما خرابه کړی ما د خپل غرض د پاره تباه کړی
ستا رضا په دی کی نشته دی خالـقـه ستا سلاء په دی کی نشته دی مالکـه
په ما نفس دی غالب شوی زه مغلوب یم
خواهشاتـو اسیر کړی یـم مجذوب یم.

**** **** ****

بی عملـه عالـمـانو یـم ړونـد کـړی نا پوهـانـو اسـتادانو یم ړونـد کړی
لیونتوب می خدائی ګڼي نا پوه دي هر وحشت می ازلي ګڼي ناپوه دي
خو زه دا فیصله نه مـنم هیڅکله
دا بـاور بـه زما پاتـی وی تر تله

**** **** ****

پیدا شوی زه مختار یم زه آزاد یم کارمی خپل دی چی آباد یم که برباد یم
تـا راکـړی راتـه عقل زه انسان یم زه په خپله خوښه ځم په لار روان یم
نه بندی ستا د ازل نـه د تقدیر یم نـه تابع د کوم مـرشد یـم نـه د پیر یم
که هرڅه کوم اختیار لرم د ځان خپل هم می خپله ده دنیا هم می جهان خپل
زه مسؤل د هـر ستم او د هر غـم یـم زه د ځمـکـی خلـیـفـه یـم بنیـادم یـم
دی باور باندی ناراض نه شی له مانه
ای د ټولي هستي «خدایه!» مهربانه

**** **** ****



که چیری غواړی د همدغه لیکوال نور مطالب ولولی، دلته کلیک وکړی.